مرادزئ ۲۰۰۹/۰۵/۲۶م

استاد رباني دې خپله سپيناوئ وکړي

د روان کال د مې د مياشتې په اتمه ، په انګريزي ژبه د اينترنيټ په جالپانه کې د برهان الدين رباني په نوم يوه ليکنه خپره شوې چې د « اشرف غني احمدزئ : د هېواد د بېلتانه لار » تر سرليک لاندې
ښاغلي رحمت اريا ژباړلې او د هغې ژباړلئ بشپړ متن په ښېنوا جالپانه کې پروت دئ .
په نوموړې ليکنه کې د پښتنو ټبر ته سپکې سپورې ويل شوي او هم يې ښاغلئ غني احمدزئ کنځلئ دئ .
ټول افغان وايي : « نو ځکه ټول افغان ټکی کام د جمعيت اسلامي د مشر د دفتر سره اړيکې ونيولې او مخکې له دې چې د ليکنې په اړه رپوټ خپور کړي سپيناوی يې ترې وغوښت.
د جمعيت اسلامي د دارالانشامشر محمد نسيم فقيري، او د رباني سکرترانو هر يو جمشېد اقبال او حاجي نذير شفيعي د ټول افغان سره په مرکو کې دا ليکنه په کلکه رد کړه او ويې غندله »
د ښاغلو اقبال او شفيعي له خوا ددې ليکنې غندنه د مننې وړ ده او هر څوک چې ځانته افغان وايي بايد داسې ليکنې چې هغو کې د پښتنو وياړلې ټبر او يا د هېواد وتلي او نامتو شخصيت غني احمدزي ته سپورې سپکې ووايي وغندي .
دا کار که هر چا کړئ وي ، که هغه ايران پلوئ ستميان يا د جمعيت کوم ښاخ او يا بل افغان دښمنه او پښتون دښمنه وي ، توپير نه لري . هغه د ټولو افغانانو ګډ دوښمن دئ .
موږ به دا ومنو چې يا د خبرې په حساسيت د پوهېدو او يا په رسنيو کې د کلکې غندنې او نېوکې له کبله د رباني دوتر دې ته اړ شو چې نوموړې ليکنه وغندي . خو فکر نه کيږي چې دومره لويه خبره دې د رباني د دوتر د عادي چارواکو په خوله حل وګڼل شي .
پکار دا دي چې رباني دې ، لکه ډېرو نورو دوستانو چې هم وړانديز کړئ ، مطبوعاتي کنفرانس جوړ کړي . په دې کنفرانس کې دې په صفا او روښانه ټکو کې ليکنه ، د هغې ليکوال او د هغې سرچينه رسوا کړي . او همدارنګه په ليکنه کې هغه سپکاوئ چې د پښتنو د ټبر په نوم شوئ ، هغه دې ببرته واخلي .
د رباني په نوم او پټه په يوه نړيواله جالپانه کې ، د سيمې د يوه باتور او وياړلې قوم سپکاوئ شوئ ، دا يوازې په پټه او کوټه کې د څو تنو په خوله نه حليږي . ښاغلي اقبال او شفيعي که ريښتيا ددې خبرې حل راباسي ، داسې کنفرانس دې ډېر ژر دعوت کړي .

پای

افغان جرمن آنلاین شما را صميمانه به همکاری دعوت می نمايد. لطفاً به آدرس ذيل با ما تماس بگيريد maqalat@afghan-german.de
نوت: مسئوليت املائی و انشائی نوشته ها به دوش خود نويسنده ميباشد، خواهشمنديم مطلب خود را بعد ازغور کامل بما ارسال بداريد.